
د ښځو د سولې لنډیز – د ۲۰۲۰ کال د نومبر میاشت

د خبرو اترو پر مهال د مخالفتونو د حلولو لپاره د بنسټ په توګه د حنفي فقهې کارولو په اړه د افغان ښځو نظرونه

لنډیز:

- **۱،۷۰۰ ښځو چې عمرونه یې له ۱۸ څخه تر ۶۰ کلونو پورې وو له کندهار، ننګرهار، بامیان، بلخ، هلمند، تخار او هرات ولایتونو څخه د خبرو اترو پر مهال د مخالفتونو دحلولو لپاره د بنسټ په توګه د حنفي فقهې کارولو په اړه د ۲۰۲۰ کال د ښځو د سولې لنډیز لخوا یوه نظرسنجي کې ګډون وکړ.**
- **٪۵۵،۹۰ ګډونوالو خبر درلود چې بین الافغاني خبرې اترې د دې پر سر چې آیا حنفي فقهه دې په مذاکراتو کې د مخالفتونو حلولو لپاره وکارول شي او که نه، ورو شوې وې.**
- **کله چې له ګډونوالو څخه وپوښتل شول چې آیا هغوی د افغانستان د مرکچې ډلې له دې وړ اندیز سره مو افقت لري چې حنفي فقهه دې په هغه صورت کې چې د نورو مذهبي ډلو حقونو پرته له کوم توپیر څخه په پام کې ونیول شي، په مذاکراتو کې د مخالفتونو حلولو لپاره د رجوع یوې مرجع په توګه ومنل شي، ۵۷،۴٪ ځواب ویونکو مو افقت وښود.**
- **٪۶۴،۵ ځواب ویونکو اندښنه وښودله چې که چېرې حنفي فقهه د مخالفتونو حلولو لپاره د رجوع مرجع وګرځي، کېدای شي چې د ښځو بنسټیز حقونه (ځرنګه چې د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې بیان شوي دي) په خطر کې ولوېږي.**
- **٪۶۶،۳ ګډونوالو وویل چې د طالبانو مرکچې ډله باید هغه شرایط او موضوعات مشخص کړي چې د مذاکراتو پر مهال پکې حنفي فقهه د رجوع مرجع ګرځېدی شي او یا نشي.**

شالید او د سروې پوښتنې: د سپټمبر میاشتې له ۱۲مې نېټې څخه چې د بین الافغاني مذاکراتو د لومړي پړاو پیل ؤ، یو له هغو مسائلو څخه چې په مذاکراتو کې یې د تکلارې د قواعدو پر سر سخت مخالفت راوپاراوه دا وو چې حنفي فقهه دې د مذاکراتو پر مهال راپیدا کېدونکو مخالفتونو د حلولو لپاره د رجوع یوې مرجع په توګه ومنل شي. دا د طالبانو د مرکچې ډلې وړاندیز وو. د افغان حکومت استازو په لومړي سر کې د نورو مذهبي ډلو پر وړاندې د توپیر په نامه له دې نظریې سره مخالفت وښود، او ویې ویل چې "حنفي فقهه د دوو لوړیو تر منځ مخالفتونو حلولو لپاره د رجوع سرچینه کېدای شي، خو د نورو مذهبي اقلیتونو حقونه، مذهبي اصول، او خصوصي موضوعات باید له کوم توپیر پرته په پام کې ونیول شي." د دې په ځواب کې طالبانو رسنیو ته وویل چې د دوي په وړاندیز کې د نورو اقلیتونو (په مشخصه توګه د شیعه ټولنې) مذهبي حقونو ته درناوی په پام کې نیول شوی دی. دې ونه شو کولای د خلکو او د مدني ټولنې فعالینو دې اندښنې ته ځواب ووایي چې حنفي فقهه د رجوع د مرجع په توګه څه احکام لرلای شي، په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې په مذاکراتو کې اوسنی اساسي قانون تر کتنو لاندې نیول کېږي (مشخصاً د اساسي قانون دوهم فصل چې د اتباعو د بنسټیزو حقونو او مکلفیتونو په اړه خبرې کوي).



له ولایتونو څخه نظرونه: له ولایتونو څخه ۸ تنه ښځې د دې په اړه چې حنفي فقهه دې په مذاکراتو کې د مخالفتونو هوارولو لپاره د بنسټ په توګه ومنل شي اوکه نه، خپل نظرونه شریکوي

عاطفه، له بامیان څخه: "د طالبانو دا شرط چې حنفي فقهه دې د مذاکراتو پر مهال د مخالفتونو حلولو لپاره د یو بنسټ په توګه ومنل شي، له منطق څخه ډېر لېرې دی. همدارنګه له انساني ارزښتونو څخه لېرې دی. مونږ له حکومت څخه دا تمه لرو چې له دې شرط سره موافقت ونه کړي. که چېرې حکومت دا ومني، خلک به د هغوی ملاتړ څخه لاس واخلي ځکه چې بیا به نو د دولت او طالبانو تر منځ توپیر نه وي پاتې. د طالبانو دا غوښتنه/شرط خلکو ته دا باور نه ورکوي چې طالبان بدل شوي دي. که طالبان له دې سره کومه ستونزه لري، نو هغوی د جنسیتي مسائلو په هکله خپل ذهنیتونه ندي بدل کړي. دې مسئلې د طالبانو د بېرته راتګ په اړه د ښځو اندېښنې زیاتې کړې دي. او په یو داسې دولت کې چې طالبان یو لوری وي، ښځې هیڅ ځای نلري."

عابده، ۵۰ کلنه، له ننګرهار ولایت څخه: "زما په اند د سولې په خبرو اترو کې د مخالفتونو حلولو لپاره د حنفي فقهې بنسټ کرځول ناشونې ده. په دې علت چې زمونږ په هېواد کې یو شمېر نورې فقهې هم شته او کوم خلک چې د هغو فقهې لارویان دي خپل حقونه لري. زه خپله د حنفي فقهې پیروه یم خو نه غواړم چې په افغانستان کې هر څه د حنفي فقهې پر بنسټ وي ځکه چې دلته نورې فقهې هم شتون لري. مونږ اسماعیلیه لرو، د جعفري فقهې لارویان لرو او همدارنګه هندوان لرو. هغوی به څنګه کېږي؟ د هغوی ورځنی ژوند به څنګه کېږي؟ زه په دې باور یم چې دا دوه مخې ده. ځکه چې په افغانستان کې د خلکو اکثریت حنفي دي، هغوی (طالبان) غواړي چې له دې څخه په خپله ګټه کار واخلي او خلک د یو بل پر ضد راوپاروي. هغوي ولې غواړي چې د خلکو تر منځ دښمني رامنځته کړي؟"

فاطمه، ۲۳ کلنه، له هلمند څخه: "د طالبانو دا غوښتنه چې حنفي فقهه دې د سولې د خبرو اترو پر مهال راپیدا کېدونکو مخالفتونو حلولو لپاره د مرجع په توګه ومنل شي، له اساسي قانون سره مغایرت لري. زه په دې کې کومه ستونزه نه وینم چې د سولې په خبرو کې د مخالفتونو حلولو لپاره دې حنفي

فقهه د یو بنسټ په توګه وکارول شي. خو که چېرې هغوی په دې ټینګار کوي چې اساسي قانون کې تعدیل رامنځته کړي تر څو حنفي فقهه په افغانستان کې یوازینۍ فقهه کړي، دا نو بیا د منلو وړ نده."

زېبا، ۱۸ کلنه، له کندهار ولایت څخه: "اسلامي قوانین او فقهه د ښځو لپاره تر ټولو غوره دي. دا قوانین ښځو ته د زده کړې او په ټولنه کې د پرمختګ حق ورکوي. که چېرې حنفي فقهه یا اسلامي قانون په ټولنه کې په سمه توګه پلي شي، ډېرې هغه ستونزې او ننګونې چې ښځې اوس ورسره مخ دي به حل شي. اسلامي قوانین د ټولنې ټولو خلکو ته د منلو وړ دي. دغه قوانین ښځو ته ډېرې آسانتیاوې رامنځته کوي. کولای شي ښځو ته یو خوندي چاپېریال رامنځته کړي. اسلامي قوانین کولای شي حتی متعصب خلک دې ته وهڅوي چې د خپل کور ښځې زده کړې ته پرېږدي. کولای شي ښځو ته زده کړې او روغتیايي آسانتیاوو ته لاسرسی ورکړي. دا به نه یوازې ښځې بلکې د ټولنې ټولو طبقاتو باندې مثبته اغېزه وکړي."

فروزان، ۳۵ کلنه، له تخار ولایت څخه: "پر حنفي فقهې باندې د طالبانو ټینګار او د جعفري فقهې ردول د پوښتنې وړ ده. زمونږ په ټولنه کې د دواړو فقهو پیروان په همغږۍ سره او پرته له کومو ستونزو ژوند کوي. ډېر پوهان په دې باور دي چې شیعه فقهه د ښځو په ټراو ډېر پرمختللي دي. شیعه فقهه بدلون او پرمختګ ته ځای ورکوي. زمونږ د هېواد جګړه سیاسي ده، نه مذهبي.. د طالبانو دا شرط په ښکاره توګه تعصب دی او د ټولنې په یوه لوبه برخه باندې ستړکې پټوي. طالبان په دې کارونو سره نشي کولای د کلونو کلونو وژنې، رښتینې جهاد وبولي. که چېرې طالبان په رښتیا هم سوله غواړي نو باید د اسلام په اړه په پراخ ډول خبرې وکړي، نه یوازې د یوې فقهې یا طریقې په اړه. ښځې دا اندېښنه لري چې طالبان له دوه لسیزو جګړې وروسته کوښښ کوي چې د وسیلې په توګه د اسلام په اړه خپلو افراطي نظرونو او د خپلو مهمو مراجعو په کارولو سره، ښځې له صحنې څخه ګوښه کړي. لنډه دا چې دا زمونږ خلکو ته د منلو وړ ندی. دا د ټولنې د یوې لوبې برخې پر وراندې تعصب دی. له دې سره دوي کولای شي تعصب ته قانونیت او بنسټ ورکړي او دا چل بیا بیا وکاروي. دا به عدالت رامنځته نه کړي او تر هر چا زیات به یې ښځې له امله کړېږي."

حلیمه، له هرات ولایت څخه: "که څه هم ټول افغانان مسلمانان دي، خو د یو واحد ډیموکراټیک سیستم لاندې ژوند کولو سره له مختلفو مذاهبو څخه پیروي کوي. د افغانستان اساسي قانون د ټولو قوانینو د مور په توګه ټولو اتباعو ته، د اقلیتونو په شمول، مساوي حقونه ورکړي دي. او ځینې قوانین، لکه مدني قانون چې زمونږ ټولنیزو او کورنیو اړیکو باندې حکم کوي، له دې سره سره چې له حنفي فقهې څخه اخیستل شوي، له نورو فقهو لکه شافعي، حنبلي او مالکي فقهو څخه یې موارد اخیستل شوي دي. دا ځکه چې دادِ ترلاسه شي چې ټولنیز عدالت، په ځانګړې توګه د ښځو په ټراو، په پام کې نیول شوی وي. په دې ډول د قوانینو اخیستل د شریعت، قرآن او یا سنت ضد ندي. له دې کبله، د نورو اسلامي فقهې سیستمونو او د افغانستان د قوانینو له پامه غورځول د حنفي فقهې لپاره (د خبرو اترو پر مهال مخالفتونو د حلولو د مرجع په توګه) په ښکاره توګه د اتباعو د حقونو تر پښو لاندې کول دي. دا کولای شي په ښځو باندې منفي اغېزه وکړي (چې د ټولنې ۵۰ سلنه تشکیلوي) او هغوي په کور کې حبس کړي او د اسلام په نامه یې د افراطي اسلامي قوانینو له مخې، له خپلو حقونو څخه بې برخې کړي."

پلوشه، ۲۷ کلنه، له بلخ ولایت څخه: "دغه مذاکرات تر دې دمه څو ځلې ودرول شوي دي، یا د حنفي فقهې د وړاندیز له امله او یا په نورو علتونو. دا یوه بله غټه ټروتنه ده او د وخت ضایع کولو لپاره د طالبانو یو تکتیک دی. ښکاره خبره ده چې افغان ښځو بدلون موندلی او هېڅ ځواک نشي کولای هغوی له صحنې څخه ګوښه کړي او حقونه یې تري واخلي ځکه چې مورِ نړیوال ملاتړ لرو. دا د افغانو ښځو لپاره یو لوی فرصت دی. طالبان په دې غوښتنې سره او نورو غولوونکو شرطونو سره کوښښ کوي چې وخت ضایع کړي او مذاکرات ودروي."

میتودولوژي: د "واوره" د سروې پوښتنې هغو بحثونو ته په کتو سره جوړېږي چې د خبرو اترو پر مهز ترسره کېږي. څېړونکي هره میاشت، د Likert میتودولوژیکي تکلارې په کارولو سره څلور ټرلې پوښتنې (Close-ended) او یوه خلاصه پوښتنه (Open-ended) چې سروې کوونکي یې (د کډونوالو د موافقې له ترلاسه کولو وروسته) په خپلو ټلیفوني سروې ګانو کې کاروي او د سولې تسهیلوونکي یې په ولایتونو کې د مخامخ سروې ګانو لپاره کاروي. وروسته له هغې، د ټلفوني سروې ګانو او مخامخ سروې ګانو موندنې راغونډېږي او کلیدي موندنې ریې راتولېږي تر څو په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې، چې تر دې وروسته د ټولنې له ښځینه مشرانو (د "واوره" ، د ښځو د سولې د کړیو غړو) سره ترسره کېږي، په پام کې ونیول شي. "واوره" ، د راټولو شوو

غږونو د مثلث له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې خپلې موندنې د بیلابیلو میتودولوژیکي تکلارو په آزمایلو سره چک کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه موندنې شته حقایق منعکس کړي. وروسته له دې دغه موندنې د ښځو د سولې په یو لنډیز کې راغونډېږي چې "واوره" یې نه یوازې د خبرواترو لوړیو او د سولې په بهیر کې ښکېلو مرستندویانو ته، بلکې بېرته یې (د تایید د کړۍ له لارې – feedback loop) سروې شوو ځواب ویونکو ته هم لېږي تر څو هغوی د هېواد په کوټ کوټ کې د ښځو له نظرونو څخه خبر شي.

د "واوره" په اړه: "واوره" یو نوښت دی چې د افغانې ټولنې له بیلابیلو برخو څخه د سولې روانو خبرواترو پورې اړوندو مسائلو په اړه د ښځو نظرونه راټولوي او دغه نظرونه د خبرواترو له مېز، د سولې په بهیر کې له ښکېلو مرستندویانو، د مدني ټولنې بنسټونو او عامو خلکو سره شریکوي. پر دې سربېره، "واوره" په لومړۍ ردې Track I - کې له شته ښځو سره د خپلو موندنو په شریکولو سره هغه ته دا وړتیا ورکوي چې د ولس په منځ کې د ښځو اوچت شوي غږونه خبرو اترو ډلو ته ورسوي. د بدیل په توګه، د "واوره" یو مهم فعالیت دا دی چې د خپلې سروې موندنې د پیغامونو د ټکنالوژۍ – SMS له لارې بېرته له هغو کسانو سره شریکې کړي چې سروې یې شوې ده، او پدې توګه په دې بهیر کې له هغوی سره د ذینفعانو /شریکانو په شان چلند کوي.